# هېڅوک نشته چې ګناه وکړي، بیا پاځیږي، ځان پاک کړي او بیا لمونځ وکړي، بیا له الله جل جلاله څخه بخښنه وغواړي، مګر دا چې الله به هغه ته بخښنه وکړي

له علي رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: زه داسې یو سړی وم چې کله به مې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یو حدیث واورېد نو الله به چې څومره غوښتلي و ماته به یې پرې ګټه راورسوله او کله به چې هغوی ماته یو روایت بیاناوه نو ما به قسم ورکاوه، نو کله به یې چې راته قسم وکړ بیا به مې پرې باور وکړ، او یقینا چې أبوبکر راته حدیث بیان کړی او رښتیا یې ویلي، وایې چې ماله رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې فرمایل یې: «هېڅوک نشته چې ګناه وکړي، بیا پاځیږي، ځان پاک کړي او بیا لمونځ وکړي، بیا له الله جل جلاله څخه بخښنه وغواړي، مګر دا چې الله به هغه ته بخښنه وکړي»، بیا یې دا آیت ولوست.{وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ} او هغه کسان چې کله څه بد کار وکړي، یا پر خپلو ځانونو (بل) ظلم وکړي (نو) الله یاد کړي، (او) ورپسې د خپلو ګناهونو لپاره بخښنه وغواړي،[آل عمران سورت: 135 آیت ].

[صحیح دی] [ابو داود، الترمذي او النسائي په الکبری کې او ابن ماجه او احمد روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې کله یو بنده کومه ګناه وکړي، بیا په ښه توګه اودس وکړي، بیا پاځیږي او له نوموړې ګناه څخه د توبې ویستلو په نیت دوه رکعته لمونځ وکړي، بیا له الله څخه بخښنه وغواړي، مګر دا چې الله به ورته بخښنه وکړي. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی دا وینا ولوستله: {والذين إذا فعلوا فاحشة أو ظلموا أنفسهم ذكروا الله فاستغفروا لذنوبهم ومن يغفر الذنوب إلا الله ولم يصروا على ما فعلوا وهم يعلمون} (او هغه کسان چې کله دوی کومه لویه ګناه وکړي یا په خپلو ځانونو ظلم وکړي، نو الله یاد کړي او د خپلو ګناهونو لپاره بخښنه وغواړي او څوک دی چې له الله پرته ګناهونه وبخښي او بیا استمرار نه کوي پر هغه ګناه چې کړې یې ده، حال دا چې دوی پوهیږي (چې موږ ګناه کړې ده). [آل عمران سورت: 135 آیت].

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65063

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee